# د راحت زاخیلي
# د افسانې (کونډه جینۍ) د کردارونو تنقیدي څېړنه

## A Critical Analysis Of The Characters Of "Kwanda Jinnai":The First Pashto Short Story

ډاکټر برکت شاه کاکړ*

**Abstract:**

The evolution of modern prose in the Indo-Pak subcontinent is an outgrowth of 20th century European academic and institutional infrastructures. Analysis of the first period of the short stories and novels written in Pashto, Urdu, Hindi and other native languages witness a reformatory quest of the writers to reflect deep on the inherent cultural and traditional patterns that conditions the local population as mere objects, divided, violent and exclusivists for their own fellows male and female. Gender discrimination and violence against women are the inherent issues of each human culture that is rooted in the patriarchal norms of medieval ages. The ever first short story of Pashto language written by Rahat Zakhili presents the coercion and extreme violence that is culturally accepted on women. Kwanda Jinnai, "The Virgin Widow" the first short story contain the male and female characters that are equally sadists and extremely violent. The paper analyzes the psychological and behavioral traits that are constructed through a peculiar social structure.

د انساني تخلیقاتو تاریخي څېړنه ثابتوي چې قیصه د نورو لطیف فنونو څخه تر ټولو پخوانۍ اظهاري وسیله ده چې د انساني ژوند، د احساساتو، عقایدو، ویرو او ویاړونو ذکر په کښې نغښتی دی. د ګل ګامېښ د قیصې څخه د هومر تر اوډیسي او الیاډه او بیا د رګوېدا، اوپنشد او ګیتا تر سرودونو پورې قیصه د انساني ژوند سره غاړه په غاړه راغلې ده. مونږ دا ویلی شو چې د قیصې ارتقایي یون په خپله د انساني ژوند د ارتقایي پوړیو سره نېغ په نېغه تړلی دی. لکه څنګه ډول چې د انسان د تلوسې حس یا فېکلټي آف ونډر چې و انساني تخېل ته وده ورکړه او انسان په ارتقایي توګه د فطرت، ټولنې او تاریخ له جبره را خلاص شو هم دغه ډول قیصه هم د خیالي، فرضي او فوق الفطرت ماحول څخه د حقیقت وخوا ته ستنه شوه. دانسان سره قیصه د غارو څخه بیا تر غرونو، دښتونو، ورښوګانو ملګرې وه او بیا چې کله انسان و پخو ماڼیو، سرایونو، بنګلو او نفس تنګي فلېټونو ته ننووت او د کارخانې د مشین ګړبهار یې د شپانۀ د شپېلۍ زمزمې وخوړلی، د فطرته څخه راپرې شو او د خپل ذات څخه د بېګانګیت او نابلدتیا په رنځ اخته شو، نو دلته هم قیصه د هغۀ ملګرې وه. عن دومره ۇ چې اوس قیصه دکډوال، کلېوال او زرعي ژوند څخه د ښارونو ولورته را

* Lecturer; Department. of Pashto, University of Balochistan, Quetta

ستنه شوې وه، لکه څۀ ډول چې ساينس او ټېکنالوجي پېل د مرکزي يورپ څخه وشو هم دغه ډول د لنډې قيصې لومړي پلونه هم په فرانس، برطانيه او جرمني کښې موندل کيږي. د نولسمې صدۍ په اوله لسيزه کښې په ټول يورپ کښې هم دغه د لنډې قيصې ليکلو روايت پېل شو.

## په پښتو کښې د نوي وخت لنډه قيصه:

هسې خو د نړۍ ټوله علمي، تهذيبي، ادبي او فکري شته مني سره ګډه ده، هم دغه ډول د انساني تخليق قيصه ايز ادب هم د ټولو انسانانو ګډ ميراث دی. د امريکې لرغوني اوسېدونکي (Red Indians) يو متل کوي چې:

"It takes a thousand voices to tell a single story" (1)

ژباړه: ‹د زرګونو خولو وهلو پس يوه قيصه بشپړه کيږي›".

د نوي وخت د لنډې قيصې رواج د مرکزي يورپ څخه را پېل شوی دی چې وروسته يې په هندوستان کښې دلنډې قيصې ليکلو رواج ته وده ورکړه. د اردو او هندي سره سره د نورو ځايي ژبو ليکوالانو هم په دغه پېرايه کښې د قيصې ليکلو په اراده قلم ته لاس کړ او قيصې د نوي ژوند او ژواک څخه د عمليت او عقليت تازه الهامونه واخيستل. دا يوغالب نظر دی چې "و پښتو ژبې ته لنډه قيصه هم د اردو له لارې راغلې ده، او اردو ته له انګليسي ژبې څخه ننوتې ده" (2).

قيصه د کلاسيکيت او روايت څخه د تر قي پسندۍ، جديديت او مابعد جديديت و پوړيو ته پورته شوه، خو د هر وخت قيصې په خپله ځولۍ کښې دانساني ژوند د کړاوونو، ستونځو، تضاداتو، کرکو، ښکلا، بد رنګۍ او جهالت څېرې خوندي کړي دي. تکړه ليکوال ښاغلی زرين انځور په خپل اثر داستاني ادبيات کښې په دې حقله ليکي.

"قيصه د انساني ژوند سره په متوازي کرښه کښې روانه ده. د نن د قيصو مطالعه او څېړنه هم د نن د ټولنې او د دې ټولنې د ارزښتونو په مطالعه کښې خپل ارزښت لري".(3)

د راحت زاخيلي د ډېرو ځانګړنو څخه تر ټولو مهم زما په نزد د قيصه ليکنې و نوي روايت ته مخ ورګرځول دي. کونډه جينۍ چې پر کومه موضوع په څومره فنکاري ليکل شوې ده زۀ ګمان نۀ کوم چې د بلې ژبې اولنۍ قيصه به دومره بشپړه او د مقصديته ډکه وي. هندوستان او نورو مستعمره ولاتونو کښې که د نوي طرز لنډې قيصې يون ته ځير شو نو داخبره څرګنديږي چې په پېل کښې پر قيصې اصلاحي رنګ غالب دی. د دې اثر به شايد دا وي چې د نوې قيصې ليکوالان يا خو د علي ګړه د اصلاحي غورځنګ پلويان وو يا بيا يې پر دغه حقيقت ځان پوهه کړی ؤ چې د هند د کوشنۍ وچې د قامونو مستعمره کېدل د هغوی د داخلي کلتوري او ټولنيزو تضاداتو او ستونځو په وسيله دی. ځکه نو په پېل کښې زياترو ليکوالانو کرداري لنډې قيصې ‹افسانې› ليکلي دي. د پښتو لومړۍ

لنډه قیصه "کونډه جینۍ" هم د دغه رجحان څرګندونه کوي چی په کال ۱۹۱۷ کښې په افغان اخبار کښې چاپ شوې ده"(4).

اوس به مونږ نېغ په نېغه د کونډې جینۍ و لور ته راشو. زما په نزد که د هرې ژبې اولنۍ لنډه قیصه راواخستل شي او د هغې مقایسه د دغې قیصې سره وشي نو د مبالغې پرته به د پښتو لنډه قیصه په ډېرو حوالو درنه وخيژي.

د نورې څېړنې څخه لومړی د کونډې جینۍ د قیصې لنډېز وړاندې کول به بې ځایه نهٔ وي.

مرغۍ (کونډه جینۍ) ښایسته وه، قابله وه، په خپلې پلار ګنۍ کښې د ټولو د سترګو تور وه ... د پنځلسو کالو په عمر کښې د نهو کالو هلک ته وادهٔ شوه، پلار یې په روپو پسې ړندېدهٔ په خپلو سپېرو لاسونو یې ډولۍ ته واچوله او لرې یې ورکړه. یو څو میاشتې پس د هغې کمځۍ ببرې شوې او اوس هغه یوه کونډه وه"(5).

کنډتون په مرغۍ پورې سور اور شو، هره ورځ به د خسر او خواښې له لاسه وهل او ټکول کېده، د هغې ژړا، خندا، ناسته پاسته، خوب او خوراک هر څهٔ د پېغور او کرکې په ګرداب کښې داسې راګېر شول چې د ژوند پر مخ ځان ورته د تهمت یوه پوټلۍ ښکارېده. عن تر دې چې د خپل پلار په کور او د مور په غېږ کښې یې لا هم ځای و نهٔ موند، او آخر یې د تل لپاره د سیند و ارتې سینې ته ور ودانګل او د ژوند له درانهٔ باره یې وړې سپکې کړې.

د پښتو ژبې په دغه لومړۍ لنډه قیصه کښې د پښتني ټولنې د نارینه توب او جهالت رنځ داسې رابرڅېره کړل شوی دی چې د هیڅ ډول تصنع او مبالغې ګمان نهٔ پرې کیږي. د نن څخه سل کاله په خوا لیکل شوې دغه لنډه قیصه نن هم د پښتني ټولنې د اجتماعي نفسیاتو او د هغه مردانه لاشعور له مخه پرده پورته کوي چې ورته د پښتونولۍ په دود درک کښې د شرم، حیا، ننګ او غېرت معیارونه وئیل شوي دي. په پښتنې ټولنې کښې که څهٔ هم معاشي ډلې ځای په ځای په رسمي توګه شتون لرې خو بیا هم زیاتره کلتوري ساحې د فرد د آذادۍ خصلت لري. د لته فرد معنا یوائې نر اخیستل پکار دی ولې چی ښځې تر اوسه پورې لا د ټولنیز رغښت په پای کښې ګڼل کیږي . د ښځینوو په حقله اولسي شعور یا کلتوري عمل هم هغه ډول غېرترقي یافته دی لکه چې په نړۍ کښې د ساینسي اختراعاتو، د اظهار د ازادۍ او ووټ په ذریعه د خپل واکمن ټاکلو څخه چې وختي ؤ.

دلته به مونږ اوس دقیصې د کردارونو یو عمومي شان تنقیدي جاج واخلو، که څهٔ هم د تحقیق د اصولونو په رڼا کښې مونږ د یوه کېس اطلاق ته عمومیت نهٔ شو ورکولی خو زما په نزد په دې قیصه کښې چې د پښتني ټولنې د نارینوو د رویو اومایندہ ستې اندازه په ډېره ښه توګه کولې شو

لومړۍ خبره خو دا ده چې مرکزي کردار مرغۍ د خپل ژوند تر ټولو مهمې پرېکړې په کولو کښې هېڅ واک او اختیار نهٔ لري. د نارینوو په ټولنه کښې د نجلۍ او هلک د برخلیک پرېکړې پلرونه

یا نور مشران کوي. څهٔ وخت چې د هغې وادهٔ وشي نو مېړهٔ یې د نهو کالو وي او بیا په لږ موده کښې مړ شي او مرغۍ په نجلۍ ورځ کونډه شي. له هم دغه ځایه د هغې د ژوند کړاوونه پېل شي. ګل محمد او مرجانه د مرغۍ خسر او خواښې مرغۍ بد مرغه ګڼي او د خپل زوی مړینه د مرغۍ طالع بولي. مرغۍ سپېره ده، لاس او طالع یې تور دي او د یوې ځوانې کونډې په حېث د هیڅ ډول رعایت وړ نهٔ ده. نهٔ یې د خسر په کور کښې د ټکاؤ ځای شته او نهٔ یې د پلار په کورکښې څوک په ځان پورې نیسي.

هغوی له کونډې جینۍ څخه څهٔ غواړي؟ د هغې قصور او تادا څهٔ ده؟ داسې پوښتنې په اصل کښې د پښتنې ټولنې د داخلي تضاداتو او د پښتونولۍ پر لرغوني او تنګیالي روایت کښې د ا نصاف پر معیار شکونه پیدا کوي. ځکه په دې لنډه قیصه کښې لومړی خو د پښتنې ټولنې په رغښت کښې د جواز لرونکې ناانصافۍ، جبر و تشدد کلتور څرګند شوی دی. په یو شنډ استبدادي کلتورکښې د ښځو پر برابرۍ یا د هغوی سره د نېک چلن کولو خبره په خپله د مردانګۍ د دستور خلاف ګڼل کیږي.

د ښځو په ضد جسماني تشدد، ښکنځل او د بېلا بېل ډول نفسیاتي اذیتونو کارول د نړۍ په هرې مردانه ټولنې کښې جواز درلودلی دی. ټولنپوهان اوتاریخ پوهان د ښځې څخه د مینځې جوړېدلو بېلابېل لاملونه ښودلي دي خو زرعي انقلاب چې د نن څخه لس زره کاله په خوا په عمل کښې راغلی دی، په مطلق توګه د ښځې د مینځیتوب پېلامه ګرځېدلی دی"(6).

په روایتي پښتنې ټولنه کښې د وګړو د شعور ستنې د تقدیر پرستۍ په خاوره کښې ښخې وي. وهم، وهل او ترټل د دغه مردانه ټولنې داخلي نفسیاتي رویې دي چې د تاریخ په اوږدو کښې یې د تهذیبي نخښو بڼه خپله کړې ده. د برازیل انقلابي تعلیم پوه پاولو فرېرې په خپل اثر (Pedagogy of the oppressed)کښې د ظلم پر منطق او جواز ډېر ژور نظر اچولی دی چې د راحت زاخیلي کونډه جینی په کښې راګېر ده. هغه په دې حقله لیکي چې:

"استبدادي نظام د ظالم د تشدد او وهلو ترټلوپر عمل تکیه کوي، او ظالم شعور د حاکمانو د ظلم او جبر دتجربې په ترځ کښې جوړیږي"(7).

دلته که مونږ وګورو نو دګل محمد د جبر او زور زیاتي جواز د ټولنې د هغه کلتوري رویو او د ټولنیز فشار څخه په عمل کښې راځي چې حاکم یې نر او قانون او قدرونه یې د انسانیت پرته د نارینتوب د ځان خوښۍ او د نرګیسي ناروغۍ رویې دي. اوس پوښتنه داهم راپورته کیږي چې د مرغۍ (یعنې) کونډې جینۍ سره د هغې خواښې مرجانې او خپلې سکنۍ مور ولې هم هغه چلن وکړ چې د نارینوو د حاکمیت د دائم ساتلو لپاره یې د قبایلي ټولنې نارینه په تخصیص سره ملا، ملک، خان او ددولت او سرکاري اداري کوي. د دې علت هم دا دی چې د محکوم او مریي د حاکمیت او جبر په کلتور کښې خپل شعور له لاسه ورکړي او هم دغه ډول هغه د حاکم په شعور وځان او جهان ته ګوري.

راحت زاخيلي په خپله دې شاهکار لنډه قيصه کښې د خپلو کردارونو ډېره ژوره مطالعه کړې ده. ښکاره خبره ده چې داسې ادب د خيال او واهمې پېداوار نۀ وي بلکې د معروضي حالاتو هغه غربو نيولى زغ وي چې پښتني ټولنه يې د اورېدو توان نۀ لري.

د هم دغه کردارونو چى نن تر سل کاله راورسته اوس هم زمونږ په ټولنه کښې په هم دغه بڼه وجود لري. د ظالم د رويې او روحيې يو بل ځرک دلته مونږ داسې هم وينو چې هغه تر ځان کم او کښته خلقو ته د سادارانو په سترګه نۀ ګوري بلکې هغه ته انسانان هم لکه شيان يا څيزونه ښکاري. ايرک فرام په خپل اثر (The Heart of Man) کښې داډول حاکمانه رويې لرونکي خلق د (Necrophilia) په ناروغي اخته بولي. نيکروفيليا د مرګ سره د ميني وناروغي ته وېل کيږي"(8) او استبدادي نظام او وګړي پر ژونديووخلقو د تسلط ساتلو دپاره هغوی په مشيني توګه استعمالوي. هم دغه چلن د مرغۍ سره کېږي.

په وهلو ترټلو کښې خوند او لذت احساسول هم يوه نفسياتي ناروغي ده چې ورته اذيت خوښونه (Sadism) وېل کيږي"(9).

که مونږ د مرغۍ د خسر او خواښې د رويو نفسياتي تحليل وکړو نو هم دغه ورڅخه جوتيږي .راحت زاخيلي چې به کومو ټکو کښې دبې وزلي مرغۍ د وهلو ټکولو منظر ته ژوند ورکړى دى هغه پر ذهن ډېر ژور نقش پرېږدي. د بېلګې په توګه:

د ګل محمد خان خولۀ کښې ځګونه راغلل او يو کوتک ته يې لاس کړ.

" مردارې، خنزيرې، شېطانې ، پليتې، زما له لاسه سوځېدل غواړې.؟

مرغۍ.. هو بابا جي!، سول غواړم، له خپله لاسه راباندې اور ولګوه. زما د دې ژوندونه خو مرګ ښه دى، زۀ که يم څۀ او که نۀ يم نو څه؟

ګل محمد ، "کم اصلې، بدبختې، پليت نوغې، زۀ به تاته اوس اوس ښۀ اور پورې کړم".

ښځې ته يې آواز کړ، "د جمال خان مورې! هغه د تيلو بوتل راوړه" او بيا يې هغه نياز بينه مرغۍ باندې لرګى را اوچت کړو. بس دې نۀ پس په غولي کښې دغه درې اوازونه وو. يو د ګل محمد خان د لرګي شرقار ، بل د هغه چغې اور غواړې؟؟ او دريم د مرغۍ په زوره زوره کريکې، " وى بابا جي مړه شوم، خداى ته وګوره ، رسول ته وګوره، وى خپله پلاره!، وى خپلې مورې!، يه کاکا صاحبه! را ورسې ....يه لويه خدايه! را مدد شې... زۀ خو بې ګناه يم .. زۀ خو بې خطا يم .. يه خدايه! ... يه....يه... يه"(10).

د مرغۍ تادا هم دا وه چې هغه يوه پښتنه نجلۍ وه چې د پلار يې پېسې خوښې وې، د پنځلسو کلو په عمر کښې يې د نهو کلو هلک ته بې د هغې د رضا له کوره لرې وادۀ کړه، يو څو مياشتې پس يې کمځۍ ببرې شوې اوکونډه شوه.

کونډه سپېره او منحوسه ګڼل که څۀ هم د هنداو سندھ په سیمو کښې پر له پسې رواج موندلی دی، خو په پښتنې ټولنه کښې هم دغه ټولنیزه رویه تر ډېره حده پورې شتون لري. مرغۍ د هندوې غوندې د خپل ماشوم او کم عمره مېړۀ سره په ګور کښې ژوندۍ ښخه نۀ کړل شوه ، خو د هغې د هرې ورځې مرګ دومره زورونکی ؤ ، چې هغه یې و سیند دانګلو ته لېواله کړه.

د ظلم او تېري کوم انځور چې مونږ په کونډه جینۍ کښې وینو په هغه کښې زما په نزد مبالغه ډېره کمه ده.

**پایله**: د راحت زاخیلي دلنډو قیصو ژبه، کردارونو، پلاټ، اوچاپېریال له هره اړخه ځانګړې دي او هم داټول شیان د هغۀ یو ځانګړی اسلوب یا سټایل جوړوي.د سټایل په حقله د جدیدیت او پس جدیدیت زیاتره عالمان هم داخبره کوي چې دغه یو داخلي Subjective شي دی او بیا د ټي ایس ایلېټ په وېنا اسلوب په مثال دیوۀ لیکوال د څرمنې غوندې وي. لکه څۀ ډول چې د روح او تن تر منځ یو ژوندی او ارګېنک تړون وي هم دغه ډول د لیکوال او د هغۀ د اسلو ب تر منځ هم یو نۀ شلېدونکی تړون وي. دراحت زاخیلي اسلوب او موضوع ګانې دهغه د ژوند د عملي حقیقتونوڅخه سر راپورته کوي. د هغۀ نارینه اولاد نۀ وو او د خپلو لوڼو سره یې بې کچه مینه درلوده، لکه څۀ ډول چې داردو ادبیاتو لومړی ناول "مرات العروس" ډپټي نذیر احمد په ۱۸۱۸ مېلادي کال کښې د خپلو لوڼو د اخلاقي او تهذیبي روزنې تر اثر لاندې لیکلی ؤ، هم دغه ډول په کونډې جینۍ

یا د راحت زاخیلي په نورو قیصوکښې مونږ ته بشپړه اصلاحي رنګ په نظر راځي:

زما په نزد راحت زاخیلي چې په دغه قیصې کښې د پښتني ټولنې وکومې ناروغۍ ته اشاره کړې ده هغه د "نارینه توب او جهالت" ناروغیانې دي. چې مونږ تر اوسه لا په کښې راګېر یو.

***

# حوالې

(1)http://www.allshortquotes.com/quotes.php?id=30 Accessed on Dec 2, 2013
(2) رضا، افضل، پروفېسر، دراحت افسانې، پښتو اکېډمي پېښور، 1977ء، مخ ۳۰
(3)انځور، زرین، پښتو معاصر داستاني ادبیات، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه / جرمني، چاپ چارې دانش خپرندویه ټولنه کابل، ۲۰۱۴، مخ ۶
(4) رضا، افضل، پروفېسر، د راحت افسانې، مخ ۳۲
(5) انځور، زرین، پښتو معاصر داستاني ادبیات، مخ ۵۲۹
(6) Ali, Mubarak, The story of Civilization, The Iron Age , book street Lahore 2013, p.44
(7) Friere, Paulo, Pedagogy of the oppressed, E-Book
(8) http://dictionary.reference.com/browse/Necrophilia?s=t (Accessed on Nov 29th 2013)
(9) Ibid, p 13.
(10) رضا، افضل، پروفېسر، دراحت افسانې، مخ ۴۶-۴۷